د لوړو زده کړو وزارت

د افغانستان کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون

د دعوت او ارشاد، د شکایتونو اوریدلو او نظم کمیټه

# په پوهنتون کې د اخلاقي چلند، انصاف او عدالت کړنلاره

بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

انصاف د یوې مسئلې د ټولو اړخونو په عادلانه ارزونه ولاړ دی، تر څو داسې پرېکړه وشي، چې د وجدان، د ټولنې د عرف او د قضاوت کوونکي شخص قناعت حاصل کړي. په دې مانا، انصاف د حقوقي عمومي اصولو انعکاس دی، چې د قوانینو سختوالی متوازن کوي او د عدالت هغه بنسټیز مفهوم څرګندوي، چې قوانین د همدې پر بنسټ وضع شوي او د وګړو د حقونو د خوندي کولو لپاره کارول کېږي. په ادارو کې عدالت او انصاف له بنسټیزو ارزښتونو څخه ګڼل کېږي. دې موضوع ته پاملرنه څرګندوي، چې د یوې ادارې مشرتابه؛ انساني ځواک د یوې ارزښتمنې پانګې په توګه ارزوي. همدارنګه، ادارې د سیالۍ په چاپېریال کې د مراجعینو د رضایت د ترلاسه کولو په لټه کې وي، ځکه د ادارې دوام ورسره تړلی دی. دا موخه هغه وخت ترلاسه کېدای شي، چې سازماني عدالت ته ځانګړې پاملرنه وشي، ځکه عدالت د ادارو او ټولنیزو نظامونو د ژوند او بقا اساسي عامل بلل کېږي. د هرې ادارې بریا، په ځانګړي ډول د علمي او اکاډمیکو بنسټونو، د مشرتابه د تعامل له څرنګوالي سره د علمي او اداري کادر په وړاندې مستقیم تړاو لري. د سازماني عدالت رعایت د کارکوونکو باور زیاتوي، د هغوی رضایت او وفاداري پیاوړې کوي او په اوږدمهال کې د ادارې د دوام تضمین ګرځي. عدالت په عمومي ډول په دوو بُعدونو کې مطرح کېږي: فردي عدالت او ټولنیز عدالت. په اسلامي لیدلوري کې ټولنیز عدالت هغه حالت دی، چې انسان ځان د الهي احکامو او اخلاقي اصولو پابند کړي، اخلاقي ارزښتونه خپل کړي او له نورو سره په انصاف چلند وکړي او له ظلم څخه ډډه وکړي. څرګنده ده چې د ټولنیز عدالت تحقق د فردي عدالت له عملي کولو او د نفس له اصلاح پرته ممکن نه دی. انصاف د عدالت یوه مهمه څانګه ده. که څه هم ځینې موارد په بشپړ ډول د عدالت په چوکاټ کې نه شي راتلای، خو د انسان سالم فطرت، سلیم عقل او ګډ شعور دا ایجابوي، چې په ټولو حالاتو کې منصفانه چلند وشي.

دا کړنلاره د عدالت او انصاف د تأمین په موخه ترتیب شوی، تر څو په نهاد کې د شرعي احکامو تطبیق، عادلانه چلند، شفافیت او مسؤلیت‌پذیرۍ کلتور پیاوړی شي. د دې کړنلارې اساسي موخه د کارکوونکو او محصلینو د حقونو ساتنه، د تبعیض مخنیوی، د شایسته‌سالارۍ ترویج، او د سالم، امن او هڅوونکي کاري او اکاډمیک چاپېریال رامنځته کول دي. د شریعت په رڼا کې د نظر او بیان ازادي، اکاډمیکه ازادي، عادلانه ارزونه، د اسلامي نظام پالیسي خلاف حرکتونو مخه نیول، د فساد او زورواکۍ پر ضد مبارزه، د شکایتونو منظم رسېدنه، او د بریالیو او شایسته کارکوونکو ستاینه تضمینېږي. همدارنګه، د کارکوونکو د روغتیا، خوندیتوب، کاري نظم، صداقت، وجدان کاري او یووالي پیاوړتیا ته ځانګړې پاملرنه شوې ده.

**د انسان سالم فطرت او سلیم عقل پر دې باور دي، چې باید اسلامي شریعت سره سم ور سره چلند وشي!**

۱۷. له کارکوونکو سره د اړیکو د مهارتونو او ارتباطي الګوګانو تقویه کول؛

۱۸. په پوهنتون کې د څښونې (انګېزشي) نظام رامنځته کول او پیاوړتیا؛

۱۹. د نهاد د بېلابېلو واحدونو ترمنځ د کارکوونکو د یووالي او همغږۍ روحیه پیاوړې کول؛

۲۰. کارکوونکو او محصلینو ته د خدمتونو د وړاندې کولو څرنګوالی روښانه کول او مستندسازي؛

۲۱. د نهاد د ورودي لارو په سر کې د لارښود لوحو د نصب له لارې د خدمتونو د وړاندې کولو څرنګوالي په اړه خبرتیا؛

۲۲. همکارانو ته د خدمتونو د وړاندې کولو پر مهال د عدالت او انصاف رعایت؛

۲۳. د منسوبینو د ښه چلند څارنه؛

۲۴. د شکایتونو د رسېدنې څرنګوالی او د اړینو راپورونو ترتیب او چمتو کول؛

۲۵. د بریالیو، زحمت‌کښو او شایسته مدیرانو او کارکوونکو ستاینه او تقدیر، پرته له دې چې د تړاو یا وابستګی مسایل په پام کې ونیول شي؛

۲۶. د کاري نظم، وخت‌پېژندنې او مسؤولیت‌پذیرۍ رعایت؛

۲۷. په وینا او عمل کې صداقت، او له تور لګونې، بدنامۍ او اوازې خپرولو څخه ډډه؛

۲۸. د کارفرمایانو د کړنو پر وړاندې د نهاد د ټولو کارکوونکو برابري؛

۲۹. د کادري، اداري او خدماتي کارکوونکو د روغتیا د کچې لوړول؛

۳۰. د کادري، اداري او خدماتي کارکوونکو د کاري چاپېریال د خوندیتوب او حفظ‌الصحې کچې ښه والی؛

۳۱. د کادري، اداري او خدماتي کارکوونکو د کمي او کیفي اغېزمن فعالیت د ارزونې د بشپړ نظام پلي کول؛

۳۲. د انصاف او عدالت په رعایت سره د کاري وجدان پیاوړتیا؛

۳۳. د کارکوونکو ترمنځ د یووالي، صمیمیت او همدردۍ احساس رامنځته کول؛

۳۴. په نهاد کې د کاري ژوند د کیفیت د ښه والي پروګرامونه، او د پرېکړو په بهیر کې د کارکوونکو د ګډون له لارې د مالکیت احساس رامنځته کول؛

۳۵. د کادري، اداري او خدماتي کارکوونکو لپاره د ټاکلو امتیازاتو تر څنګ د جانبي امتیازاتو ورکړه، لکه د سفر لګښت ورکول، د وخت په وخت تشویقي اضافه کاري، د پور ورکول، د زده کړې لګښتونه او نور؛

۳۶. د نهاد په پالیسی جوړونه، پلان جوړونه او پرېکړه‌نیونه کې د کادري او اداري کارکوونکو د ځارنې شریکول؛

۳۷. د استادانو د کاري مکلفیت څخه زیات تدریسي ساعتونو محاسبه؛

۳۸. د علمي اثارو لرونکو ته معنوي امتیازات ورکول (لکه مقالې، کتابونه او نور).

**دا کړنلاره د یوې مقدمې او ۳۸ مادو په چوکاټ کې ترتیب شوې ده.**

په پوهنتون کې د اخلاقي چلند، انصاف، او عدالت تأدیبي کړنلاره د دعوت او ارشاد، شکایتونو اوریدلو او نظم کمیټې په ( ۶ ) ګڼه پروتوکول او (۱۴۰۳/۷/۲۸) نیټه ثبت او تائید وګرځیده.

د دعوت او ارشاد، شکایتونو اوریدلو او نظم کمیټي آمر: مولوی محمد سلیم (سلیم)

( )

یاده تګلاره د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژی ملي پوهنتون علمي شورا په ( ۹ ) ګڼه پروتوکول غونډه او( ۱۴۰۴،۱۰،۱۴) نیټه ثبت او تائید ده.

د پوهنتون علمي شورا د رئیس تائید

آمر